قرآني

# بیان

# د دُرُود شریف آیت

(پاره:22، سورة احزاب :56)

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمامِ مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 6 فروری، کال 2026ء

(بمطابق: 17 شعبان شریف، کال 1447ھ)

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 6 فرورۍ، کال 2026ء (بمطابق: 17 شعبان شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

(پارہ:22، سورۂ احزاب:56)

# د دُرُود شریف آیت

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د دُرُودِ پاک د لوستلو حُکم ولې اوکړے شو---؟
- د دُرُود نهٔ لوستلو وبال (واقعه)
- د دُرُودِ پاک پهٔ باره کښې یو څو حُکمونه
- د قرض د ادا کولو نا اشنا اِنتظام (واقعه)

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

اَنَّ رَسُوۡلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّمَ قَالَ: اَوۡلَی النَّاسِ بِیۡ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ اَکۡثَرُھُمۡ عَلَیَّ صَلَاۃً۔

د الله پاک خوږ حبيب، د زړونو طبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه د قيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نزدې هغه وي چا چې په دُنيا کښې په ما باندې ډير دُرُود لوستلي وي۔ (1)

سُنتے ہیں کہ محشر میں صِرف اُن کی رَسائی ہے
گر اُن کی رسائی ہے، لَو جب تو بَن آئی ہے
مچلا ہے کہ رحمت نے اُمّید بڑھائی ہے
کیا بات تری مجرم! کیا بات بَن آئی ہے (2)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

**وضاحت:** اورو چې د قيامت په ورځ باندې به د رسولِ ذِيشان، مکي مدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رسائي وي چې د هغوئي شفاعت به هم اوريدے شي، منلے به هم شي او د دې شفاعت په برکت سره به د دوزخ نه ازادي هم ميلاؤيږي، چې داسې خبره ده، نو

---

[1]...ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلوۃ، صفحه:144، حديث:484۔

[2]...حدائقِ بخشش، صفحه:192۔

بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زمونږه وراني وداني شي- مجرم ناقلاره دے چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت د شفاعت طمع پيدا کړې ده- واه! اے مجرمه! خومره ښه خبره ده، ستا خو ورانه ودانه شوه-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾

(پاره: 22، سورۀ الاحزاب: 56)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ترجمهٔ كنزُالعِرفان: بے شکه الله او د هغهٔ فرښتے په نبي باندې دُرُود ليږي- اے ايمان والؤ! په هغوئي باندې دُرُود او ډير ډير سلام اوليږئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله پاک په فضل او د هغهٔ په رحمت سره مبارکې مياشت، شعبان شريف تشريف راوړے دے او مونږ د دې په برکتي ساعتونو کښې د ساه اخستو سعادت حاصلوو- شعبان شريف ډيره د عظمت والا مياشت ده، په دې کښې خيرونه او برکتونه راوريږي- طَيِّب او طاهِر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: شَعْبَانُ الْمُطَهِّرُ وَرَمَضَانُ الْمُكَفِّرُ شعبان پاکوونکې ده او رمضان کفاره ده-[1]

## د شعبان شريف يو څو اهم عبادتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د شعبان شريف ډير خصوصي عبادتونه دي، مثلاً

1... جامع صغير، صفحه: 301، حديث: 4903-

❁ شعبان شريف ته شَهرُ القُرَّاء يعني د تلاوت کوونکو مياشت وئيلے شوي ده- [1] لهذا پۀ دې مياشت کښې ډير تِلاوت کول پکار دي ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ شعبان شريف کښې پۀ کثرت سره نفلي روژې نيولې- [2] ❁ لهذا پۀ دې مياشت کښې د نفلي روژو کثرت کول پکار دي ❁ دغه شان پۀ دې مبارکه مياشت کښې د توبې او د اِستغفار هم کثرت پکار دے ❁ او د شعبان شريف يو ډير اهم عبادت دُرُودِ پاک لوستل هم دے- هسې خو دُرُودِ پاک د ټول ژوند وظيفه ده، زمونږ د روزانه معمولاتو کښې د دُرُودِ پاک کثرت شامليدل پکار دي او هُم ټول کال دُرُودِ پاک لوستل پکار دي، البته اوس د شعبان شريف مبارکه مياشت ده او سُبْحٰنَ الله! د شعبان شريف د عظمتونو، د دې د اوچت والي او د برکتونو څومره ښکلے شان دے! د دې مبارکې مياشت نسبت محبوبِ رحمان، د دواړو جهانو سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل طرف ته کړے دے دې ته يې **زما مياشت** فرمائيلې ده، پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: **شَهْرُ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ وَ شَهْرُ شَعْبَانَ شَهْرِيْ** رمضان د الله پاک مياشت ده او شعبان زما مياشت ده- [3]

دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت ده، ځکه پۀ دې کښې د دُرُودِ پاک پۀ خاص توګه کثرت کولے شي- سرکارِ غوثِ اعظم، شيخ عبد القادر جيلاني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: **هوشَهْرُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ** يعني شعبان پۀ جانِ جانان جانِ ايمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لوستلو مياشت ده- [4]

## د دُرُود شريف د آيت مبارک وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د دُرُودِ پاک مياشت ده،** راځئ چې د دُرُودِ پاک د آيت

1...لطائف المعارف، وظائف شهر شعبان، معنىٰ آخر فى صوم شعبان، صفحه:186-
2...موطا امام مالک، ابواب الصيام، باب المداومة على الصيام، صفحه:130، حديث:373-
3...جامع صغير، صفحه:301، حديث:4903-
4...غنية طالبى، مجلس فى فضل شهر شعبان، جلد:1، صفحه:342-

مبارک وضاحت او د دُرُودِ پاک د لوستلو د یو خو فضیلتونو او فائدو د اوریدو سعادت حاصل کړو- پۀ 22 سیپارهِ سوره اَحزَاب، آیت: 56 کښې اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّؕ-یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا(۵۶) (پارہ:22، سورۃالاحزاب:56) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه اللّٰه او د هغۀ فرښتے پۀ نبي باندې دُرُود لیږي- اے ایمان والؤ! پۀ هغوئي باندې دُرُود او ډیر ډیر سلام اولیږئ- |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحمَۃُ اللّٰهِ عَلَیْه د دې آیت لاندې فرمائي: قرآنِ کریم ډیر حُکمونه ورکړې دي خو چرې یـې هم دا نۀ دي فرمائیلي چې مونږ هم داسې کوو، فرښتے هم داسې کوي، اے ایمان والؤ! تاسو هم داسې کوئ، صرف دُرُودِ پاک ځانګړے حکم دے، د کوم د پاره چې دا هر څۀ وفرمائیلے شو- دا خبره ده چې د کوم څیز حکم پۀ اهتمام سره ورکول وي نو بادشاه رِعایې ته وائي: مونږ هم داسې کوو، زمونږ وزیر، صلاح کاران هم داسې کوي، اے رعایې! تاسو هم داسې کوئ!
مفتي صاحب نور فرمائي: پۀ دې آیت کښې مسلمانانو له خبردارے ورکړے شوے دے چې اے دُرُود لوستونکو! دا خیال مۀ کوئ چې زمونږ پۀ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې زمونږه رحمتونه ستاسو پۀ غوښتو پسې تړلي شوې دي، زمونږ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو د دُرُود حاجت مند دے، نا! نا! داسې هیڅکله نۀ ده! که تاسو دُرُود لولئ او که نۀ لولئ، پۀ هغوئي باندې زمونږ رحمتونه برابر وریږي، ستاسو پیدائش او ستاسو دُرُود شریف خو د پرون نه شوې، پۀ هغوئي باندې د رحمتونو باران خو د هغه وخت نه دے کله چې، کله هم نۀ وو جوړ شوے، د چرته، هلته، کوم ځائے نه مخکښې پۀ هغوئي باندې رحمتونه دي، پۀ تاسو باندې دُعا کول ستاسو د فائدې د پاره ده-[1]

| | |
|---|---|
| خُدا مَدح خواں ہے، خُدا مَدح خواں ہے | مِرے مصطفٰے کا، مِرے مصطفٰے کا |

1...شانِ حبیب الرحمن، صفحه:183 184-

خُدا کا وہ طالِب، خُدا اُس کا طالِب | خُدا اُس کا پیارا، وہ پیارا خُدا کا[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُرُودِ پاک د لوستلو حُکم ولې اوکړے شو---؟؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دُرُودِ پاک په آیت مبارک کښې ټولو مسلمانانو ته د دُرُودِ پاک وئیلو حکم شوے دے، اخر د دُرُودِ پاک په مَشرُوعِیَّت (یعنې د دې حُکم په ورکولو) کښې څۀ حِکمتونه دي؟ واورئ او اِیمان تازه کړئ! علمائے کرام فرمائي: دُرُودِ پاک یو مستقل عبادت دے ❁ څکه د دُرُودِ پاک د حکم راکولو یو حِکمت خو اَجر او ثواب دے چې مونږ دُرُود شریف ولولو او د اَجر او د ثواب حقدار جوړ شو ❁ په دې کښې دویم حِکمت دا دے چې دُرُودِ پاک یوه شُکرانه ده- یعنې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مونږ باندې بے شمیره اِحسانونه دي (مثلاً ❁ دا زمکه د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت جوړه شوې ❁ اسمان د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت جوړ شوے ❁ کائنات د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت جوړ شو ❁ مونږ دُنیا ته د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت راغلو ❁ زمونږ ساه ګانې د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت نصیب شوې ❁ باران ورېږي د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت سره ❁ مونږ ته رزق د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت میلاوېږي ❁ د ګناهونو باوجود په مونږ باندې عذاب نۀ نازلیږي دا هم د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت سره- بلکې یو شاعر ډیره ښکلې خبره کړې ده!

ایمان مِلا، اُن کے صدقے، قرآن مِلا اُن کے صدقے
رحمٰن مِلا اُن کے صدقے، وہ کیا ہے جو ہم نے پایا نہیں

غرض دا چې دا انتها نۀ لرونکې اِحسانونه دي) مونږ د دې اِحسانونو بدله نۀ شو ورکولے، اللہ پاک مونږ ته د دُرُود شریف د لوستلو حکم اِرشاد کړو د پاره د دې چې د هغه اِحسانونو

---

1 ...ذوقِ نعت، صفحه:57۔

بدله اګر که ورنکړے شو، البته د حُضُور جانِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ شکريه خو به ادا کړے شي-[1] د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دُرُودِ پاک باندې پوره کلام دے او دا ټول کلام د شکريه ادا کولو پۀ لهجه کښې دے، ليکلي يې دي:

کعبہ کے بدر الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود
طیبہ کے شمس الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود
بے ہنر و بے تمیز کس کو ہوئے ہیں عزیز
ایک تمہارے سِوا تم پہ کروڑوں دُرُود
خلق کے حاکِم ہو تم، رزق کے قاسِم ہو تم
تم سے ملا جو مِلا تم پہ کروڑوں دُرُود
گندے نکمے، کمین، مہنگے ہوں کوڑی کے تین
کون ہمیں پالتا، تم پہ کروڑوں دُرُود[2]

**وضاحت:** دا لکه چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مننه کوي چې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ بے هنره هم يو، بے تميزه هم يو، بيا هم تاسو زمونږ سره مينه کوئ، ستاسو ډيره ډيره مننه پۀ تاسو دې پۀ کروړونو دُرُودونه وي- تاسو د مخلوق حاکِم هم يې، رزق تقسيموونکي هم يې، څۀ چې مو نصيب شو، ستاسو ډيره ډيره مننه هم ستاسو پۀ برکت نصيب شو او نصيب کيږي، پۀ تاسو دې پۀ کروړونو دُرُودونه وي- مونږ ګنده هم يو، بے کاره هم يو، کم ظرفه هم يو، دومره سپک يو چې يوه ټکه (يعنې معمولي قيمت) هم زمونږ نه ښه دے، د يو دَر لائق هم نۀ وو، بيا هم تاسو زمونږ سره پت پالې، مينه کوئ، پۀ تاسو باندې دې پۀ کروړونه دُرُودونه وي-

1...مسالک الحنفاء، المسلک التاسع فیما فیها من الاسئلة والاجوبة، صفحه:70۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:264 270 ملتقطًا۔

غرض دا چې د دُرُودِ پاک پهٔ حکم ورکولو کښې حِکمت دے چې زمونږ د طرف نه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څهٔ نا څهٔ مننه اوکړے شي-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر پهٔ هر ځائے کښې

د دُرُودِ پاک پهٔ حُکم ورکولو کښې يو بل ايمان تازه کوونکے حِکمت دا دے چې علمائے کرام رَحمَۃُاللهِ عَلَیْهِم فرمائي: د دُرُودِ پاک د لوستلو حکم مونږ له دې د پاره راکړے شو چې (مَلَاءِ الاَعلٰی يعني پهٔ اسمانونو کښې خو هر وخت د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کيږي، فرښتے پرې دُرُود ليږي، د دې سره سره) پهٔ زمکه باندې هم چرته نا چرته، د چا نا چا پهٔ ژبه باندې هر وخت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کيږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرچې د الله پاک خوښې دي او هم دې د پاره مونږ ته د دُرُودِ پاک د لوستلو حکم راکړے شو- چې دغه شان هر وخت د رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کيږي- لهذا مونږ له پکار دي چې مونږ ښهٔ ډير دُرُودِ پاک لولو، پهٔ کثرت سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې به مو بے شميره برکتونه نصيب شي-

| | |
|---|---|
| حکمِ حق ہے پڑھو دُرُود شریف | چھوڑو مت غافلو دُرُود شریف |
| خود خدا بھیجتا ہے اُن پر دُرُود | تم بھی بھیجا کرو دُرُود شریف |
| حضرت مصطفٰے کا پیارا نام | جب سنو تب پڑھو دُرُود شریف (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...مسالک الحنفاء، المسلک التاسع فيما فيها من الاسئلة والاجوبة، صفحه:71-

2...نورِ ایمان، صفحه:39 ملتقطًا-

## د دُرُودِ پاک د لوستلو پهٔ باره کښې مختلف حُکمونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره: 22، سورۃ الاحزاب: 56)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! پهٔ هغوئي باندې دُرُود او ډېر ډېر سلام اولیږئ۔

پهٔ دې ځائے کښې مونږ ته حُکم راکړے شوے دے چې پهٔ محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود او ډېر ډېر سلام لیږئ! د دې آیت نه علمائے کرام دلیل اخلې اوفرمائي: (1): پهٔ ژوند کښې یو ځل دُرُود شریف لوستل فرض دي۔[1] او پهٔ کوم مجلس کښې چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ېخپله ذِکر مبارک اوکړي یا یې د چا نه واوري، هُغه وخت دُرُود شریف لوستل واجِب دي،[2] لهذا چې څوک د هغوئي پهٔ ذِکر مبارک کولو یا اوریدو دُرُود شریف نهٔ لولي، هغه به د واجِب د پریښودو پهٔ وجه ګنهګار وي[3] (2): دا ضروري نهٔ دي چې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک نوم واخلې یا واورې نو بیا دُرُود لوستل واجِب دي بلکې هر هُغه لفظ کوم چې د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذات مبارک باندې دلالت کوي (مثلاً هغوئي، حُضُور، رسولِ هاشمي وغیره)، د دې سره هم دُرُود شریف وئیل واجِب دي۔[4] (3): پهٔ مختلفو مجلسونو کښې (مثلاً: پهٔ یو ځائے کښې ناست وې، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک وشو بیا پهٔ ځائے کښې کښیناستلو، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک وشو نو) هر ځل دُرُود شریف لوستل واجِب دي، چې نهٔ یې لولي نو ګنهګاریږي به۔[5] (4): البته که هُم پهٔ یو مجلس کښې بیا بیا د خوږ آقا و مولا، مکي

---

1... درمختار کتاب الصلاۃ، باب صفة الصلاۃ، صفحه: 71۔

2... بهارِ شریعت، جلد: 1، صفحه: 533، حصه: 3 ملخصاً۔

3... فتاویٰ رضویه، جلد: 6، صفحه: 222، ماخوذاً۔

4... فتاویٰ اہلسنت، ریفرینس نمبر: Nor,9649۔

5... فتاویٰ رضویه، جلد: 6، صفحه: 222 بتغیر قلیل۔

مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک کيږي نو پۀ دې باره کښې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: مناسب دا دي چې هر ځل دُرُودِ پاک ولوستلے شي، ولې چې دا داسې څيز دے د کوم پۀ کولو کښې چې ډير لوئي رحمتونه، برکتونه دي او پۀ نۀ کولو کښې يې بے شکه د لوئي فضل نه محرومي ده، نو د يو عقل مند کار نۀ دے چې دا پريږدي-[1](5): پۀ خطبه کښې که ذِکر مبارک واورى نو صرف پۀ زړۀ کښې دُرُود شريف لولئ، پۀ ژبه باندې لوستل جائز نۀ دي چې هٰغه وخت خاموشه اوسيدل فرض دي-[2]

## د دُرُود نۀ لوستلو وبال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته ډير خلق پۀ دُرُودِ پاک لوستلو کښې ناراستي کوي- دا ډير د محرومۍ سبب دے-

د حضرت اِمامِ حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلۡبَخِيۡلُ الَّذِىۡ مَنۡ ذُکِرۡتُ عِنۡدَهٗ فَلَمۡ يُصَلِّ عَلَىَّ يعنې کنجوس هٰغه کَس دے د چا پۀ مخکښې چې زما ذِکر وشو او هغه پۀ ما باندې دُرُودِ پاک اونۀ وئيلو-[3]

## خطرناک تور مار

يو کَس وفات شو- د هغۀ د پاره چې قبر وکنستلے شو نو پۀ قبر کښې يو خطرناک تور مار پۀ نظر راغلو- خلق ويريدل او هٰغه قبر يې بند کړو او پۀ بل ځائے کښې يې قبر وکنستو- هلته هم هٰغه مار موجود وو- دريم ځائے وکنستلے شو، هلته هم خطرناک تور مار موجود وو- اخر مار گويانه شو او اوئې وئيل: تاسو چې هر چرته قبر کښنئ، زۀ به هلته رسيږم- خلقو پوښتنه اوکړه: دا قهر او غضب ولې؟ مار ووئيل: دې کَس چې به کله د

1...فتاوى رضويه، جلد:6، صفحه:222، 223 ملخصاً-

2...فتاوى رضويه، جلد:8، صفحه:365 بتغير قليل-

3...ترمذى، كتاب الدعوات، باب قول رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم رغم ...الخ، صفحه:811، حديث:3546-

مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم اوريدو نو پۀ دُرُود لوستلو کښې به يې کنجوسي کوله، اوس به دې کنجوس له زۀ سزا ورکووم- (1)

جو ترے در پر جھکا وہ سر بُلندی پا گیا
جو اکڑ کر رہ گیا، بے شک ذلیل وخوار ہے (2)

## پۀ زړۀ کښې د دُرُود شوق زيات کړئ!

اَللّٰہُ اَکْبَر! الله پاک دې زمونږ حفاظت اوکړي، مونږ له پۀ خپل زړۀ کښې د دُرُودِ پاک شوق زياتول پکار دي- حضرت عبدُ العزيز دَبّاغ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د جَنَّت د دُرُودِ پاک سره ډير شوق دے، د جَنَّت پۀ اړخونو کښې فرښتے دي، هغوئي چې کله هم دُرُودِ پاک لولي نو جَنَّت پراخه کيدل شروع شي، د څو پورې چې هٰغه فرښتے دُرُود لولي، جَنَّت پراخه کيږي-

چا ترينه پوښتنه اوکړه:چې د فرښتو پۀ تسبيح باندې جَنَّت ولې نۀ پراخه کيږي، صرف پۀ دُرُودِ پاک باندې ولې پراخه کيږي؟ علامه عبد العزيز دباغ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ وفرمائيل: پۀ اصل کښې خبره دا ده چې جَنَّت د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور نه پيدا کړے شوے دے، ځکه د جَنَّت د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره داسې محبت دے، لکه څنګه چې د يو ماشوم د خپل پلار سره وي،لهذا چې کله فرښتے دُرُود لولي نو جَنَّت پۀ شوق سره دې طرف ته زياتيږي او پراخه کيدل شروع کوي- (3)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے جَنَّت---!! چې جَنَّت د دُرُودِ پاک سره داسې محبت کوي نو مونږ د جَنَّت طلبګاران يو، مونږ له هم پکار دي چې د دُرُودِ پاک شوق پۀ زړۀ کښې زيات کړو- بلکې يوه معلوماتي خبره عرض کوم! د جَنَّت د دُرُودِ پاک

---

1…شفاء القلوب، صفحه:309 بتغير قليل-
2…وسائلِ بخشش، صفحه:471-
3…الابريز، الباب الحادی عشر فی الجنة و ترتيبها…الخ، وسالته رضی الله عنه لم کانت الجنة…الخ، صفحه:488-

سره شوق څکه دے چې جَنَّت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه جوړ کړے شوے دے، که په حقيقت کښې وکتلے شي نو هر څيز د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه جوړ دے، آو جي! په **حديثِ پاک** کښې دي: اَوَّلُ مَا خَلَقَ اللهُ نُوْرِیْ، وَكُلُّ شَيْءٍ خُلِقَ مِنْ نُوْرِیْ الله پاک د ټولو نه وړومبے زما نُور جوړ کړو او هر څيز هُم زما د نُور نه جوړ کړے شوے دے۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! چې جَنَّت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه جوړ شو نو د دُرُودِ پاک ډير زيات شوق لري مونږ خو هم د دې نُور نه جوړ کړے شوي يو، مونږ له هم پکار دي چې د دُرُودِ پاک سره محبت اوکړو او ښه په شوق او ذوق سره دُرُودِ پاک لولو۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بنده جوړيدو طريقه

په قرآنِ کريم کښې يو ډير د تسلۍ والا آيت دے، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ (پاره:24، سورة الزمر:53) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله د رحمت نه مهٔ نا اُميده کيږئ، بے شکه الله ټول ګناهونه بخښي۔ |

دا خومره اِيمان تازه کوونکے آيت دے، د اِنسان ګناهونه که دومره وي چې د هغې نه زمکه او اسمان ډک شي، دومره لوئي لوئي ګناهونه وي، د دې باوجود هغه له اُميد ورکړے شو، تسلي ورکړے شوه چې مهٔ ويريږه، د الله پاک د رحمت نهٔ مهٔ مايوسه کيږه! بے شکه الله پاک ټول ګناهونه بخښي۔

دا خومره اِيمان تازه کوونکے آيت دے او خومره د تسلۍ ورکولو والا دے چې خومره هم ګنهګار يې نو د مايوسه کيدو ضرورت نشته، الله پاک بخښونکے دے۔ خو دلته د

---

1 ... مطالع المسرات، فصل فی كيفية الصلاة على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، الحزب الثاني في يوم الثلاثاء، صفحه:225۔

غور کولو يوه خبره دا ده چې دا فضيلت، دا کرم، دا تسلي د چا د پاره ده؟ د دې آيت ورومبي الفاظ واورئ! اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| قُلْ (پاره:24، سورۂ الزمر:53) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تۀ وفرمايه- |

څۀ وئيل دي؟ چا ته وئيل دي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰعِبَادِيَ (پاره:24، سورۂ الزمر:53) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے زما هغه بندګانو! |

يعني اے زما حبيبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپلو بندګانو، خپلو غلامانو ته وفرمايه! (څۀ فرمائيل دي؟ دا چې) اے زما غلامانو! اے زما بندګانو! اے زما اُمتيانو! څوک چې زما شوي يـې، تاسو د الله پاک د رحمت نه مۀ نا اُميده کيږئ! بلکې تاسو زما شئ! الله پاک به ستاسو مخکښيني وروستني ټول ګناهونه معاف کړي-[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره لوئي فضيلت دے، څوک چې د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بنده دے، د الله پاک پۀ رحمت سره به د هغۀ ټول ګناهونه بخښلے کيږي- اوس پوښتنه دا ده چې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے بنده او رښتونے غلام به څنګه جوړيږې؟ دې د پاره حديثِ پاک واورئ! رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَنَا حَبِيْبُ اللّٰهِ تَعَالٰى وَ الْمُصَلِّيْ عَلَيَّ حَبِيْبِيْ يعني زۀ د الله پاک محبوب يم او څوک چې پۀ ما باندې دُرُود لولي، هغه زما محبوب دے-[2]

معلومه شوه چې څوک د الله پاک د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوب جوړيدل غواړي، هغه دې د الله پاک پۀ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پۀ کثرت سره دُرُودِ پاک لولي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ رښتوني

---

1...برکاتِ دُرُود، صفحه:3-

2...خزينة الاسرار، باب الاحاديث الواردة فى خواص الصلاة والسلام على سيد الانام...الخ، صفحه:201-

غلام جوړيدو کښې به کامياب شي-

## د نيکو تَله ښنګه درنه شوه---؟

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې، د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت د ورځې خبر ورکړو او اوئې فرمائيل: د قيامت ورځ به وي، حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام به شنې جامې اغوستې وي، د عرشِ اِلٰهى په سورې کښې به تشريف فرما وي او ګوري به چې د هغوئي په اولاد کښې څوک څوک جنَّت ته بوتللے کيږي او څوک څوک دوزخ ته غورځولے کيږي- په دې کښې به د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نظر د انبياؤ د تاجدار، اَحمَدِ مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو اُمَّتي پريوځي، فرښتو به هغه د دوزخ طرف ته روان کړے وي، دا چې ووينې نو حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام به آواز اوکړي: يَا اَحۡمَدُ!يَا اَحۡمَدُ!اے اَحۡمَده!اے اَحۡمَده!

الله! الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! قربان شم! هُغه د قيامت منظر---!! هُغه وحشت ناکه ورځ چې د هر يو سره به بس خپل فِکر وي، سَکه مور به هم د اولاد نه ځان خلاصوي، زمونږه آقا و مولیٰ، زما بخښلو والا آقا، رحم کوونکے آقا، جنَّت ته رسوونکے آقا، مالکِ جنَّت، صاحبِ کوثَر، نبئ رَحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په دې سخت وخت کښې هم زمونږ د ګنهګارانو د بخښلو او جنَّت ته د رسولو د پاره د محشر په ميدان کښې موجود وي- د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه د هُغې وخت حالت د شعرونو په شکل کښې داسې بيانوي:

| | |
|---|---|
| کسی کے پلّہ پہ یہ ہوں گے وقتِ وزنِ عمل | کوئی اُمّید سے منہ اُن کا تک رہا ہو گا |
| کوئی قریبِ ترازو، کوئی لبِ کوثر | کوئی صِراط پر اُن کو پُکارتا ہو گا |
| ہزار جان فِدا نرم نرم پاؤں سے | پُکار سُن کے اَسیروں کی دوڑتا ہو گا |

عزیز بچہ کو ماں جس طرح تلاش کرے | خُدا گواہ یہی حال آپ کا ہو گا (1)

الله پاک دې کروړونه رحمتونه نازل کړي زمونږه پۀ آقا و مولیٰ مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې، چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام کله د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو اُمَّتي دوزخ ته پۀ بوتللو ووینې او اواز اوکړي نو حُضُور جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدایت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پۀ جواب کښې ارشاد وفرمائي: لَبَّیْكَ یَا اَبَا الْبَشَر! اے د ټولو انسانانو والده! لبیک---!! حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام به وفرمائي: دا ستاسو اُمَّتي دے، فرښتے دا د دوزخ طرف ته بوځي۔

بازارِ قیامت میں جنہیں کوئی نہ پوچھے | ایسوں کا خریدار ہمیں تُو نظر آیا

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام دا اواز واوري نو زر به د فرښتو خوا له تشریف یوسي او وه به فرمائي: اے زما د رَبّ فرښتو! ودریږئ---!! فرښتے به عرض اوکړي: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه فرښتے یو او فرښتے د الله پاک نافرماني نۀ کوي، چې څۀ حکم وي هغه پوره کوي، دا چې به واوري نو د اُمَّت غم خوړ، نبيِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپله ږیره مبارکه ونیسي او د الله پاک د عرش طرف ته به مخ کړي او عرض به اوکړي: اے زما رَبِّ کریمه! آیا زما سره وعده نۀ وه شوې چې د اُمَّت پۀ معامله کښې به ما نشي غمژن کولے---؟ بیا به فرښتو ته حکم اوکړے شي: اَطِیْعُوْا مُحَمَّدًا د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اوکړئ!

د دې حُکم میلاویدو سره به څۀ وشي؟ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي:

چھوڑ کر مجھ کو فرشتے کہیں محکوم ہیں ہم | حکمِ والا کی نہ تعمیل ہو زُہرہ کیا ہے (2)

1...ذوق نعت، صفحه:52، 53 ملتقطاً۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:173۔

يعني فرښتے به هٰغه مجرم پريږدي او په ادب سره به عرض اوکړي: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږه ستاسو غلامان يو، زمونږه څۀ مجال چې ستاسو پۀ حکم باندې عمل اونکړو۔

بيا به د مصطفٰے جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدايت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حکم هٰغه بنده بيا ميزانِ عمل ته راوستے شي، د هغۀ اعمال به وتللے شي، شفاعت کوونکے آقا، اُمَّت بخښونکے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زۀ به د خپل جيب نه د ګوتې د يو بند برابر سپين کاغذ راوباسم او بِسمِ الله به ولولم او د نيکو پۀ تَله کښې به يے کيږدم، د دې پۀ برکت به د هٰغه ګس د نيکو تَله درنه شي۔

محشر ميں گنہگار کا پلّہ ہُوا بھاری | پلّہ پر جو وہ قربِ ترازو نظر آيا[1]

دلته به د هٰغه ګس د نيکو تَله درنه شي، ورسره به پۀ محشر کښې شور شي: کامياب شو، کامياب شو، د هغۀ د نيکو تَله درنه کړے شوه، اوس دا جنَّت ته بوځئ---!!

يہ سَماں ديکھ کے محشر ميں اُٹھے شور کہ واہ | چشمِ بد دُور ہو! کيا شان ہے! رُتبہ کيا ہے
صَدْقے اِس رَحْم کے، اس سايۂ دامن پہ نثار | اپنے بندے کو مصيبت سے بچايا کيا ہے[2]

چې کله فرښتے هٰغه ګس د جنَّت طرف ته بوځي نو هغه به عرض اوکړي: اے فرښتو! لږې ودريږئ! زۀ دې بزرګ ته څۀ عرض کووم! بيا به هغه عرض اوکړي: زما مور پلار دې پۀ تاسو باندې قربان شي! ستاسو مخ څومره نُوراني دے، تاسو څومره د اعلیٰ اخلاقو والا يے، تاسو زما پۀ اوښکو باندې رحم اوکړو او زما ګناهونه مو معاف کړل، تاسو څوک يئ؟ ارشاد به وشي: زۀ ستا نبي مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يم او دا ستا هٰغه دُرُودِ پاک وو کوم

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:46۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:173۔

چې تا پهٔ ما باندې وئيلے وو، ما دا هم د ننۍ ورځې د پاره محفوظ ساتلے شوې وو- [1]

وہ پرچہ جس میں لکھا تھا دُرود اس نے کبھی | یہ اس سے نیکیاں اس کی بڑھانے آئے ہیں [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!  صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُرُود شريف برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دُرُودِ پاک ډېره اعلیٰ وظيفه ده- د دې دومره ډېر برکتونه دي، دومره ډېر برکتونه دي چې واه! سُبْحٰنَ الله! د دُنيا او د اخرت که هر قِسمه پريشاني وي، دُرُودِ پاک د هغې ډېر اسان حل دے- حضرت اُبَي بن کعب رَضِيَ اللّٰهُ عَـنْهُ فرمائي چې ما عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زهٔ پهٔ تاسو باندې ډېر دُرُود وئيل غواړم، اوس دې د پاره پهٔ خپلو اورادو او وظيفو کښې څومره وخت مقرر کړم؟ اوئې فرمائيل: څومره چې تهٔ غواړې؟ عرض مې اوکړو، څلورمه [حصه]؟ اوئې فرمائيل: څومره چې تهٔ غواړې او که زياته يې کړې نو ستا د پاره بهتره ده- ما عرض اوکړو: نيمه [حصه]؟ اوئې فرمائيل: څومره چې تهٔ غواړې که د دې نه يې هم زياته کړې نو ستا د پاره بهتره ده- ما عرض اوکړو: پهٔ دريو کښې دوه [حصې]؟ اوئې فرمائيل: څومره چې تهٔ غواړې که زياته يې کړې نو ستا د پاره بهتره ده- ما عرض اوکړو: بيا به هم ټول وخت د دُرُود د پاره مقرر کړم؟ اوئې فرمائيل: که تهٔ داسې اوکړې نو دا به ستا د پريشانو د پاره کافي وي او ستا ګناهونه به ختم کړي- [3]

سُبْحٰنَ الله! د يو اِنسان سره هم دا دوه فِکرونه کيدے شي، يو د دُنيا او بل د اخرت- دُرُودِ پاک لولئ، د دُنيا فِکرونه به هم ختم شي او د اخرت ټول فِکرونه به هم ختم شي- مثلاً

---

1...قول بدیع، الباب الثانی فی ثواب الصلاۃ...الخ، صفحہ:129 ملخصاً۔

2...سامانِ بخشش، صفحہ:142۔

3...ترمذی، ابواب صفۃ القیامۃ والرقاق والورع، صفحہ:583، حدیث:2457۔

❁ که بيماريـﺑ نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که تنګدستي وي نو دُرُود شريف لوئ! ❁ که د اولاد خواهش وي نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که قرض درباندې وي نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که روزګار درته نهٔ ميلاؤيږي نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که نوکري مو نهٔ کيږي نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که پهٔ اِمتحان کښې کاميابي غواړئ نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که نيک جوړيدل غواړئ نو دُرُود شريف لولئ! ❁ که د مشکلاتو حل کيدل غواړئ نو دُرُود شريف لولئ! غرض دا چې د هرې سختۍ، هرې پريشانۍ، د هر غم، د هرې ويرې حل دُرُودِ پاک دے۔

## د قرض د ادا کولو نا اشنا اِنتظام

يو نيک ګس وو، هغه د چا نه درې زره (3000) ديناره (د سرو زرو سِکې) قرض واخستو۔ د واپسۍ نيټه وټاکلے شوه۔ بيا څهٔ داسې وشو چې د هغهٔ کاروبار خراب شو، غريبي پرې راغله او دهٔ پهٔ وخت قرض ورنکړے شو۔ دلته چې کوم قرض ورکوونکے وو، هغه ترينه قرض غوښتل شروع کړل۔ د هغهٔ سره خو د ورکولو د پاره هيڅ هم نهٔ وو، د کوم ځائے نه به يـې ورکولو، نو قرض ورکوونکي پهٔ هغهٔ باندې مقدمه اوکړه۔ قاضي صاحب د مقدمې اوريدو د پاره هغه غريب عدالت ته وغوښتو۔ ټوله واقعه واوريدله او اوئې وئيل: تا له د يوې مياشتې نور مهلت درکړے کيږي۔ پهٔ دې موده کښې پهٔ څهٔ طريقه د قرض انتظام اوکړه!

بيا پريشاني وه چې کار روزګار خو ولاړ دے، عدالت هم صرف د يوې مياشت مهلت راکړے دے، څهٔ به کووم۔ بيا پهٔ دې پريشانۍ کښې دا نيک اِنسان جوماتۀ ته لاړو او دُرُودِ پاک لوستل يـې شروع کړو۔ هغهٔ معمول جوړ کړو، روزانه به يـې دُرُودِ پاک لوستلو، پهٔ داسې کولو کولو 27 ورځې تيرې شوې۔ 28 شپه راغله، دا ګس چې د شپې اودهٔ شو نو بخت يـې رابيدار شو، خوک وئيلو والا وائي: اے بنده! تهٔ د سلطنت د وزير علي بن عيسیٰ رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خوا له لاړ شه! هغوئي ته ووايه! هغه به تا له درې زره (3000) ديناره درکړي۔

هُغه ګس چې راويښ شو نو ډېر خوشحاله شو خو ورسره دا خيال هم راغلو چې زهٔ به وزير ته څهٔ وايم؟ هغهٔ له به څنګه باور ورکووم چې ما ته پهٔ خوب کښې اِرشاره راکړے شوې ده؟ پهٔ دې سوچ کولو هغه بيا پرېشانه شو، پهٔ بله ورځ يــې بيا دُرُودِ پاک ولوستو، شپه شوه، چې اودهٔ شو نو بخت يــې رابيدار شو، پهٔ دغه شپه ورله د غريبانو مددګار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خوب کښې تشريف راوړو- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم دا وفرمائيل: د سلطنت د وزير علي بن عيسىٰ (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) خوا له لاړ شه!

بيا چې د هغهٔ سترګې وغړيدلې نو پهٔ خپل قِسمت يــې رشک کولو، څومره خوش قِسمتي ده چې پهٔ خوب کښې يــې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو- خو ورسره ورسره بيا خيال راغلو، چې وزير له به څنګه باور ورکووم؟ نو پهٔ بله ورځ يــې بيا دُرُودِ پاک ولوستو، شپه شوه چې اودهٔ شو نو بخت يــې رابيدار شو، سرکار عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا کرم وفرمائيلو، پهٔ خوب کښې يــې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: که وزير ستا نه د څه نخښې پوښتنه اوکړي نو ورته ووايه چې تهٔ د سحر د نــمونځ نه پس د چا سره د خبرو کولو نه وړاندې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذات باندې پينځهٔ زره (5000) ځله دُرُودِ پاک لولې-

پهٔ دې فرمائيلو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف يوړلو- د هُغه نيک اِنسان سترګې وغړيدلې- بيا يــې پرېشاني پهٔ پوره توګه حل شوې وه- چې سحر شو نو دا ګس د وزير خوا له لاړو، ټوله واقعه يــې ورته بيان کړه، وزير چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيغام واوريدو نو ډېر خوشحاله شو او د محبت نه يــې فوراً درې زره ديناره ورکړل! او اوئې وئيل: دا درې زره د قرض ورکولو د پاره دي- بيا يــې درې زره ديناره نور ورکړل او اوئې وئيل: دا ستا د اولاد خرچه ده- بيا يــې درې زره ديناره نور ورکړل او اوئې وئيل: دا ستا د کاروبار د پاره دي-

بيا هٔغه کَس تهول 9 زره ديناره واخستل او عدالت ته لاړو، پهٔ شمار يــې درې زره ديناره پيش کړل- قاضي صاحب حيران شو او اوئې وئيل: رښتيا ووايه تا دا دومره رقم د چرته نه راوړے دے؟ حالانکې تهٔ خو کنګال وې- هٔغه نيک اِنسان تهوله واقعه بيان کړه- قاضي صاحب هم عاشقِ رسول وو، واقعه يــې چې واوريدله نو پاڅيدو او کور ته لاړو، څهٔ وخت بعد واپس راغلو او درې زره ديناره يــې هٔغه نيک انسان له ورکړل او اوئې وئيل: زهٔ هم د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلام يم، ستا قرض به زهٔ ورکووم- بيا هٔغه کَس د کوم چې پرې قرض وو، هغه هم عاشقِ رسول وو، هغهٔ چې کله دا هر څهٔ وليدل نو هغهٔ هم ووئيل: دا تهول برکتونه به تاسو خلق ځنګه حاصلوئ---؟ زهٔ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلام يم، زهٔ د دې نيک کَس تهول قرض معاف کووم-

داسې د هٔغه عاشقِ دُرُود تهول قرض ادا شو او د کمال خبرې ته وګورئ چې کله د کور نه وتلے وو نو درې زره ديناره قرض دارے وو او چې کله واپس راغلو نو هغه د 15 زره ديناره مالِک وو- (1)

مشکل جو سر پہ آپڑی تیرے ہی نام سے ٹلی
مشکل کشا ہے تیرا نام تجھ پر دُرُود اور سلام

## د مرګ نه د جَنَّت پورې مرحلې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ د جَنَّت طلبګاران يو او هر مسلمان له پکار دي چې جَنَّت ته د تللو خواهش پهٔ زړهٔ کښې وساتي، ځکه چې جَنَّت د الله پاک د رحمت ځائے دے- اوس معامله دا ده چې د مرګ نه واخله جَنَّت ته د رسيدو پورې يو څو مرحلې دي: (1): د حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د رُوح قبض کولو د پاره راتلل (2): رُوح قبض کول (3): قبر ته کوزيدل (4): د نَکِيرَيْن (يعني قبر ته د راتلونکو فرښتو)

1... جذب القلوب، باب ہفت دہم در ذکر فضائل وآداب صلوۃ بر سید کائنات، صفحہ:237 238 ۔

سوالونه (5): بيا د قبر تنهائي (6): بيا د حشر ميدان (7): بيا پل صراط- هم د دې ټولو مرحلو نه پۀ تيريدو مونږ جَنَّت ته رسيدے شو-

او د مزې خبره دا ده چې دُرُودِ پاک هُغه د ټولو نه اعلیٰ نيکي ده، د کوم پۀ ذريعه چې پۀ دې ټولو مرحلو کښې اساني نصيب کيږي- دا د دُرُودِ پاک پۀ برکتونو کښې دي چې ❁ د دُرُود شريف د لوستونکي رُوح پۀ اسانئ سره قبض کيږي ❁ د دُرُود شريف لوستونکي سره نَکِيرَين (يعني پۀ قبر کښې د سوال کوونکې فرښتے) نرمي اِختياروي ❁ د دُرُود شريف د لوستونکي د قبر د تنهايئ او د وحشت نه نجات نصيب کيږي ❁ دُرُودِ پاک لوستونکے به د قيامت پۀ ورځ پۀ امن او پۀ سکون کښې وي ❁ د دُرُودِ پاک د لوستونکي به د قيامت پۀ ټولو مرحلو کښې اساني نصيب کيږي ❁ دُرُودِ پاک لوستونکي ته به پۀ پل صراط باندې نُور عطا کولے شي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ما (پۀ خوب کښې) يو کَس وليدو کوم چې پۀ پل صراط لړزيدو، راښکلے کيدو، پۀ دې کښې پۀ ما باندې لوستلے شوے دُرُود راغلو، هغه يـې د لاس نه ونيولو او جَنَّت ته ورسولو (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور اوکړئ چې څومره عظيمه نيکي ده- د دُنيا د هرې پريشانئ حل هم پۀ دې کښې دے، د اخرت د هر غم حل هم پۀ دې کښې دے، که د رَبّ رضا غواړې نو هغه هم پۀ دُرُودِ پاک کښې ميلاؤيږي، که د الله پاک خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نزدې کيدل غواړې نو هغه هم پۀ دُرُودِ پاک کښې ميلاؤيږي خو---!! څومره د محرومئ خبره ده، مونږ د دُرُودِ پاک طرف ته هډو توجه نۀ کوو- ❁ پريشانئ دي ❁ دردونه دي ❁ غمونه دي ❁ ژړيږو سلګئ وهو ❁ پريشانو راله وينبته بالکل سپين کړل ❁ د شپې خوبونه ❁ د ورځې سکون مو برباد شو ❁ کاروبارونه مو ودريدل- د دې ټولو پريشانو حل مونږ ته معلوم دے او ډير اسان حل دے، صَلَّ اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد پۀ يو سيکنډ

---

1...مجمع الزوائد، كتاب التعبير، باب فيما راٰه النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فى المنام، جلد:7، صفحه:266۔

کښې يې لوستلے شو- روزانه يو څو منټه ويستل دي، 500، 1000، 1200 کرته دُرُودِ پاک لوستل څۀ ډير ګران کار نۀ دے خو مونږ توجه نۀ کوو- الله پاک دې مونږ ته پۀ کثرت سره د دُرُودِ پاک د لوستلو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نيک اعمال موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو او پۀ نيک اعمال کښې د زياتوالي د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: نيک اعمال ***(Naik Amal)*** پۀ دې ايپلي کيشن کښې د اِسلامي ورونړو، اِسلامي خوئيندو او طالبِ علمانو د پاره بيلې بيلې رسالې موجودې دي ❁ دا پۀ 6 مختلفو ژبو ❁ انګلش ❁ اُردو ❁ هندی ❁ بنګالی ❁ ګجراتی او ❁ سندهی کښې استعماليدے شي ❁ پۀ دې کښې پۀ مختلفو نيک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې پۀ برکت به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذهن جوړيږي، د زړۀ صفا والے به نصيب کيږي او کردار به مو صفا سوترا، ښکلے کيږي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** پۀ نمونځ کښې سَدَل مکروهِ تحريمي دے-

**وضاحت:** دا ډيره اهمه مسئله ده، ډير خلق پۀ دې کښې غلطي کوي- سَدَل څۀ دے؟

پهٔ دې باندې پهٔ توجه سره ځان پوهه کړئ!

د سَدَل لفظي معنیٰ ده: زوړندول- پهٔ شريعت کښې کپړه د رائج اِستعمال خلاف زوړندولو ته سَدَل وئيلے شي- (1) مثلاً ❁ د جيکټ يا د واسکټ لستوڼي د اچولو نه بغير داسې پهٔ اوګو باندې کيښودل، سَدَل دے ❁ داسې څادر يا شال وغيره پهٔ اوګو باندې داسې زوړندول چې د دې دواړه کوټونه زوړند وي- دا هم سَدَل دے- (2) آؤ! که د څادر يو سر له غوټه ورکړې او پهٔ بله اوګه باندې يـې واچوې نو دا سَدَل نهٔ دے- ياد ساتئ چې پهٔ نـمونځ کښې سَدَل مکروهِ تحريمي (او ګناه) ده او د دې سره نـمونځ واجبُ الاِعَادَه کيږي (يعني داسې نـمونځ بيا کول واجِب دي)- (3)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي حکمونو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا وَاحِدُ

څوک چې يواځې ويريږي نو هغه دې پهٔ تنهايۍ کښې يَا وَاحِدُ 1001 کرته ولولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغهٔ د زړهٔ نه به ويره لا ړه شي- (4)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...درمختار، کتاب الصلاۃ، باب مایفسد الصلاۃ ومایکرہ فیھا، صفحه:87 ملتقطاً-

2...فتاوىٰ اہلسنت (غير مطبوعه)، فتوىٰ نمبر: Pin 7368-

3...فتاوىٰ رضويه، جلد: 7، صفحه385-

4...مدنی پنج سورہ، صفحه:255-